اونيز رساله: 298
WEEKLY BOOKLET: 298

د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَهْ د کتاب "فیضانِ نماز" یو قسط

د پينځه وخته لمونځو نو فضائل

پښتو

شیخِ طریقت، امیرِ اهلسنت، باني دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال
مُحمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي
دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

(دا مضمون د كتاب ”فيضانِ نماز“ صفحه 99 تا 114 نه اخستے شوے دے.)

د پينځه وخته لـمونځونو فضائل

دعائے عطّار: يا رَبَّ الـمصطفٰی! څوک چې دا رساله ” د پينځه وخته لـمونځونو فضائل “ اولولي يا ئې واوري هغه ته د جُمات په وړومبي صف كښې پينحه واړه لـمونځونه جمعې سره د ادا كولو توفيق وركړې او بے حسابه ئې اوبخښې. اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

د درود شريف فضيلت

فرمانِ مصطفٰی صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: په ورځ د قيامت به په خلقو كښې ما ته زيات نزدې هغه وي چا چې په دُنيا كښې په ما باندې زيات دُرُود شريف وئيلي وي.
(ترمذی، ج2، ص27، حديث: 484)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د سحر او مازديګر لـمونځ كوونكي به جهنَّم ته نه ځي

حضرتِ سَيِّدُنا عُماره بِن رُوَيبه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ فرمائي چې ما د خوږ مُصطَفٰی رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِیْن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے: ”چا چې د لـمر د راختلو او پريوتلو نه مخكښې لـمونځ ادا كړو (يعني چا چې د **سحر** او **مازديګر** لـمونځ اوكړو) هغه به بالكل جهنَّم ته نه داخليږي.“ (مُسلِم ص۲۵۰ حديث ۱٤۳٦)

د سحر او مازديګر د فضيلت حِکمت

حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاك نه لاندې ليکي: د دې دوه مطلبونه کيدے شي: يو [مطلب] دا چې د سحر او مازديګر پابندي کولو والا به دوزخ ته هميشه اوسيدو د پاره نه ځي، که لاړو نو عارضي (يعني وقتي) طور. لِهذا دا حديث د دې حديث خلاف نه دے چې بعضې خلق به د قيامت په ورځ لـمونځونه راوړي خو د هغوئي لـمونځونه به اَهلِ حُقُوق (يعني د چا حقونه ئې چې وهلي وي هغوئي) ته ورکړے شي. بل [مطلب] دا چې د **سحر** او **مازديګر** پابندي کوونکو ته به اِنۡ شَآءَاللّٰه د باقي لـمونځونو هُم توفيق ورکړے شي او د تولو ګناهونو نه د بچ کيدو هُم، ځکه چې هُم دا لـمونځونه (په نفس) زيات درانه وي. چې د دې پابندي ئې اوکړه نو اِنۡ شَآءَاللّٰه د باقي لـمونځونو به هم پابندي کوي، لِهذا په دې حديث دا اعتراض نشته چې د نجات د پاره ګني صرف دا دوه لـمونځونه کافي دي د باقي ضرورت نشته. ياد ساتئ چې په دې دوو لـمونځونو کښې د ورځې او شپې فرښتے يو ځائے کيږي، بله دا چې دا د ورځو د غاړو لـمونځونه دي، او دا دواړه په نفس ګران (يعني درانه) دي، ځکه چې سحر د اوده کيدو وخت دے او مازديګر د کاروبار د فروغ (يعني تيزئ سره د چليدو)، لِهذا د دې (لـمونځونو) درجه زياته ده. (مِرآةُ المناجيح ج١ص٣٩٤)

د اِمِنه سپوږمئ د آسمان سپوږمئ اوليدله نو اُوئې فرمائيل

حضرتِ سَيِّدُنا جَرِير بِن عبدُالله رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ بيان کوي چې مونږه د حُضُورِ پاك صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر وو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **د څوارلسمې شپې سپوږمئ طرف ته اوکتل او اِرشاد ئې اُوفرمائيلو:** "عنقريب [نزدے] (يعني د قيامت په ورځ) به تاسو خپل **ربّ** داسې وِينئ څنګه چې دا سپوږمئ وِينئ، نو تاسو نه که کيدے شي نو د سحر او مازديګر لـمونځ کله هُم مه پريږدئ." بيا حضرتِ سَيِّدُنا جَرِير بِن عبدُالله رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ دا آيتِ کريمه اولوستلو:

وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِ رَبِّكَ قَبۡلَ طُلُوۡعِ الشَّمۡسِ وَقَبۡلَ غُرُوۡبِهَا ۚ

([مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: او د خپل رب پاکي او صِفَت بيان کړه، د لمر د ستركي د ځليدلو نه مخكښې او د هغې د پريوتلو نه مخكښې) (پ١٦، طٰهٰ:١٣٠) (مُسلِم ص ٢٣٩ حديث ١٤٣٤ مُلَخَّصاً)

عِشقِ رَسُول كښې ډوبه تشريح

مُفَسِّرِ قرآن حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه د حديثِ پاك د دې حِصّے (هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د څوارلسمې شپې سپوږمۍ طرف ته اوكتل) نه لاندې فرمائي: يعني د خُدائے رَحمان سپوږمۍ د آسمان سپوږمۍ ته اوكتل، ډوبيدونكي خړې (يعني كمې رنړا والا) سپوږمۍ ته هُغه سپوږمۍ اوكتل چې هغه به نه كله پريوځي او نه به خړيږي (يعني نه به ئې رنړا كميږي)، ظاهر [يعني ښكاره څيزونه] ځلوونكي سپوږمۍ ته هُغه سپوږمۍ اوكتل كومه چې زړه او ساه او رُوح و ايمان هُم ځلوي، د شپې ځليدونكي سپوږمۍ ته هُغه سپوږمۍ اوكتل كومه چې د اَبَدُالْآباد پورې (يعني هميشه) هر وخت شپه او ورځ ځليږي او ځليږي به. زه څه اُوواېم الفاظ راته نه ملاويږي! اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمۡ وَبَارِكۡ عَلٰى بَدۡرِ النُّبُوَّةِ وَ شَمۡسِ الرِّسَالَةِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّم. (ترجمه: اے **الله**! دُرُود و سلام اوليږې او بَرَكت نازل كړې د نُبُوَّت په سپوږمۍ او د رِسالت د لمر ستركه باندې) داسې اووايه چې هغه سپوږمۍ ته چې د لمر د ستركې نه رنړا اخلي هغه سپوږمۍ اوكتل كومې نه چې د لمر ستركه رنړا اخلي، كومه چې په زړونو باندې ورځ راولي. (د آسمان) سپوږمۍ هُم خوش نصيبه ده چې هغې ته محبوب (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) اوكتل، دا سپوږمۍ چې مونږ ئې نن هم وينو، دا هُم هغه سپوږمۍ ده په كومه چې د حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نظر پريوتے وو. دا حديث د **عَامَّةُ الۡمُسۡلِمِين** (يعني د عامو مسلمانانو) دليل دے چې مؤمنان به په مَحشر كښې هُم په خپلو ستركو د پاك **ربّ** ديدار كوي او په جَنَّت كښې به ئې هم ديدار كوي. ياد ساتئ چې د جَنَّت ټول نعمتونه به د نيكو اعمالو عِوَض (يعني بدله) وي، اګر كه د خپلو اعمالو، يا د هغه د اعمالو د چا

په خاطر چې جَنَّت ته تلے وي خو دِيدارِ اِلٰهي به د يو عمل عِوَض (يعني بدله) هُم نه وي، خالِصه عطاءِ ذُوالجلال (يعني د **الله** پاك خاص عنايت) به وي، د دې دوو لـمونځونو پابندي به د دې دِيدار لياقت او قابليت پيدا كړي يعني د سحر او مازديګر پابندي. په دُنيا كښې **لـمونځ** داسې كوه لكه ته چې خُدائے وينې ځكه چې دلته حِجاب (يعني پرده) ده، هلته به حِجاب (يعني پرده) اوچته شي لكه ختمه چې شي، هغه چې اُووِينئ هغه سره به كلام [يعني خبرې] كوئ. (حديثِ پاك كښې موجود آيتِ كريمه نه لاندې ليكي:) د دې فرمانِ عالي نه معلومه شوه چې په دې آيت كښې د **تَسْبِيْح** و **تَحمِيد** (يعني د الله پاك پاكي او صفت بيانولو) نه مُراد لـمونځ دے، ولې چې د سحر او **مازديګر** په لـمانځه كښې د شپې او ورځې **مُحافظے** فرښتے يو ځائے كيږي، او د **سحر** لـمونځ غفلت سره د اُوده كيدو وخت دے او د **مازديګر** د لـمانځه وخت د كاروبار او سيل تماشے كولو د غفلت وخت دے، په دې وجهو د دې لـمونځونو تاكيد زيات دے، **ربّ** تعالىٰ اِرشاد فرمائي: اِنَّ قُرْاٰنَ الْفَجْرِ كَانَ مَشْهُوْدًا ﴿۷۸﴾ ([مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالايمان: بيشكه د سحر په قرآن (يعني لـمانځه) كښې فرښتے حاضريږي. (پ۱۵، بنی اسرائيل:۷۸) د مازديګر د لـمانځه مُتَعَلِّق فرمائي: حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَ الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى ق ([مَفهُوم] ترجمۂ كنزُالايمان: حفاظت اوكړئ د ټولو لـمونځونو او د مينځني لـمونځ. (پ۲، البقرة:۲۳۸)) (مِراٰةُ المناجيح ج ۷ ص ۵۱۷ تا ۵۱۸ مُلَخَّصاً)

تیرہ دل کو جلوہ عرب درکار ہے
چودھویں کے چاند تیری چاندنی نہیں

(ذَوقِ نعت)

د زړه تيارے به شي روښانه د عرب په سپوږمۍ
اے د څوارلسمې سپوږمۍ! نه غواړمه ستا رڼرا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د پروردګار 100 ځله دیدار

حضرت عَلّامه مولانا مُفتي مُحمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه اِرشاد فرمائي: د دُنيا په ژوند کښې (په ویښه) د **الله** پاك دیدار د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د پاره خاص دے او آخرت کښې د هر سُنِّي مسلمان د پاره ممکِن بلکه واقع. پاتې شو قَلبي (یعني په زړه کښې) دیدار یا په خوب کښې، دا نورو انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَام بلکه د اولیاء د پاره هُم حاصل دي. زمونږه **اِمامِ اعظم** (ابو حنیفه) رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه **ته په خوب کښې سل ځله** [د الله پاك] **دیدار شوے وو.** (نور فرمائي:) د هغه (یعني د **الله** پاك) دیدار بِلا کَیْف دے، یعني ویني به ئې او (خو) دا نه شي وئیلے چې څنګه به ئې وِيني! څه څيز چې [بنده] وِيني د هغه نه څه فاصِله د مَسافَت وي، نزدے یا لرې، هغه [څیز] د کتونکي نه په کوم یو طرف وي، پاس یا لاندې، ښي طرف ته یا کینړ طرف ته، مخې ته یا شا ته، د هغه (یعني د **ربِّ کریم**) لیدل به د دې ټولو خبرو نه پاك وي. بیا پاتې شوه دا خبره چې څنګه به کیږي؟ هُم دا خو وئیلے کیږي چې "څنګه" ته دلته دخل نشته، اِنْ شَآءَاللّٰه چې کله ئې دیدار اوکړو بیا به اُووائیو. د (داسې) ټولو خبرو خُلاصه دا ده چې کوم ځائے پورې عقل رسیدے شي هغه خُدائے نه دے او کوم چې خُدائے دے هغې ته عقل نه رسي، او د دیدار په وخت کښې دِ سترګې د هغه اِحاطه (یعني ګیره) اوکړي، دا مُحال (یعني ناممکن) دي. (بهارِشریعت ج۱،ص۲۰تا۲۲) بهارِشریعت جِلد اَوّل صفحه 160 کښې دي: جَنّتیان چې کله جَنَّت ته لاړ شي، هر یو به د خپلو اعمالو په مقدار مرتبه حاصلوي او د هغه د فضل حد نشته. بیا به هغوئي ته د دُنیا د یوے هفتے د مقدار نه پس اجازت ورکړے شي چې د خپل پروردګار دیدار اوکړئ او عرشِ اِلٰهی به ښکاره شي او **ربّ** تعالیٰ به د جَنَّت د باغونو نه یو باغ کښې تَجَلِّي فرمائي او د دې جَنَّتیانو د پاره به منبرونه اوغوړولے شي، د نُور منبرونه، د غمو منبرونه، د یاقوتو منبرونه، د زَبَرجَد منبرونه، د سرو زرو منبرونه، د سپینو زرو منبرونه او په هغه جَنَّتیانو کښې به اَدنیٰ (یعني د ټولو نه کمې درجے جَنّتي) به د مُشك و کافور په خبې باندې کښیني او په هغوئي کښې

اَدنٰـی يو هم نه دے، په خپل ګُمان کښې به کرسۍ والا د ځان نه څه زيات نه ګنړي او د **الله** تعالیٰ ديدار به داسې صفا کيږي لکه د لـمر ستړګه او د څوارلسمې سپوږمۍ چې هر يو د خپل خپل ځائے نه وينې، چې د يو ليدل به د بل د پاره مانِع (يعني رُکاوټ) نه وي او **الله** کريم به په هر يو تَجَلِّي فرمائي، په هغوئي کښې به چا ته فرمائي: اے فلانکيه بن فلانکے! تا ته ياد دي، په کومه ورځ چې تا داسې داسې کړي وو...؟ د دُنيا بعضې معاصي (نافرمانۍ) به ورياد‌وي، بنده به عرض کوي: نو اے **ربّ**! آيا تا زه اُو نه بخښلم؟ فرمائي به: آو! زما د مغفرت د وُسعَت (يعني فراخۍ) په وجه ته دے مرتبے ته اورسيدلے. (بهارشريعت ج۱ ص ۱۶۰)

جے میں ویکھاں عملاں ولے، کجھ نئیں میرے پلے
جے میں ویکھاں رحمت رب دی، بلے بلے بلے

(يعني کله چې زه خپلو اعمالو ته اوګورم نو هيڅ هم راسره نشته، او چې کله د خپل **رب** رحمت ته اوګورم نو د خوشحالۍ نه تاؤ شم)

د مازديګر د لـمانځه دوه همره اجر

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو بَصره غِفاري رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې نُور والا آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: دا لـمونځ يعني د مازديګر لـمونځ ستاسو نه مخکښې خلقو باندې پيش کړے شو نو هغوئي دا ضائع کړو، لِـهذا څوك چې به دا پابندۍ سره ادا کوي هغه ته به دوه همره اجر ورکولے کيږي. (مُسلِم ص ۳۲۲ حديث ۱۹۲۷)

حضرت مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د دې حديثِ پاك نه لاندې ليکي: يعني په پخوانو اُمَّتونو هُم د مازديګر لـمونځ فرض وو خو هغوئي هغه پريښودلو او د عذاب مُستَحِق شو، تاسو د هغوئي نه عبرت واخلئ. (مِراٰةُ المناجيح ج۲ ص۱۶۶)

د دوه همره اجر د وجوهاتو مَدَني ګلونه

❖ وړومبے اجر به د پخوانو اُمّتونو د خلقو په مخالفت کولو يعني **د مازديګر د لـمانځه** د پابندئ کولو په وجه ورکولے کيږي او بل اجر به د مازديګر د لـمانځه په کولو ورکولے کيږي ځنګه چې د نورو لـمونځونو ورکولے کيږي ❖ وړومبے اجر به د عبادت د پابندئ کولو په وجه ورکولے کيږي او دويم اجر به د اخستلو او خرخولو د پريښودلو د قَناعَت کولو په وجه ورکولے کيږي، ځکه چې د مازديګر په وخت کښې خلق په بازارونو کښې په کار روزګار کښې مصروف وي ❖ وړومبے اجر به د مازديګر د فضيلت په وجه ورکولے کيږي ځکه چې دا **صلٰوۃِوُسطٰی** (يعني مينځنے لـمونځ) دے او بل اجر به د هغې د پابندئ په سبب ورکولے کيږي. (شرح الطيبی ج ۳ ص ۱۹، مِرقاۃُالْمَفَاتِيح ج ۳ ص ۱۳۹)

عمل ضبط شو!

تابعي بُزُرګ حضرتِ سَيِّدُنا **اَبُوالْمَلِيح** رَحْمَةُاللهِعَلَيْه بيان کوي: په يو داسې ورځ چې وريَځے راغلې وې، مونږه د صحابيِ رَسُول حضرتِ سَيِّدُنا بُرَيده رَضِیَاللهُعَنْهُ سره په جِهاد کښې وو، هغوئ اُوفرمائيل: د مازديګر په لـمانځه کښې تادي اوکړئ ځکه چې حُضُور تاجدارِ دوعالَم صَلَّیاللهُعَلَيْهِ وَاٰلِهٖوَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے "چا چې **د مازديګر لـمونځ** پريښودو د هغه عمل ضبط شو." (بُخاری ج۱ ص ۲۰۳ حديث ۵۵۳)

د مازديګر لـمونځ د پريښودو عادت لرونکي باندې د کفر انديښنه

حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې ليکي: غالِباً د "عمل" نه مُراد هغه دُنياوي کار دے د کوم په وجه چې هغه د مازديګر لـمونځ پريښودلو (او) د "ضبط کيدو" نه مُراد د هغه کار بَرَکت ختميدل دي. يا دا مطلب دے چې څوك د مازديګر پريښودلو

عادت جوړ کړي د هغه د پاره اندېښنه (يعني خطره) ده چې کافِر مړ شي او د هغه اعمال ضبط (يعني برباد) شي، (البتّه) د دې مطلب دا نه دے چې د مازديګر لـمونځ پرېښودل کفر يا اِرتِداد دے. ياد ساتئ! چې د مازديګر لـمانځه ته قرآنِ مجيد "مېنځنے لـمونځ" وئيلو باندې د دې ډېر تاکيد فرمائيلے دے بله دا چې دغه وخت کښې د شپې او ورځې فرښتے جمع کيږي او دا وخت د خلقو د سيل تماشے او د تجارتونو د تيزئ وخت دے، ځکه اکثر خلق د مازديګر په لـمانځه کښې سستي کوي، په دې وجهو قرآن شريف هم د مازديګر د لـمانځه ډېر تاکِيد فرمائيلے دے او حديث شريف هُم. (مِرآةُ المناجيح ج١ص٣٨١تا٣٨٢)

څلوېښت مِنټه مخکښې تياري (حِکايت)

عارِف بِاللّٰه ابو العبّاس حَرِثـي رَحْمَةُاللّٰهِ عَلَيْه به د مازديګر د لـمانځه تياري هغه وخت شروع کوله چې د ماسپښين د لـمانځه وخت ختميدو کښې به څلوېښت منټه باقي وو، د هغوئي د تيارئ طريقه به دا وه چې نظر به ئې ښکته کړو او مُراقبه کښې به مشغول شولو او د وسوسو نه به ئې اِستِغفار کولو او داسې به ئې ځکه کول چې په هغوئي باندې د مازديګر وخت په داسې حالت کښې راشي چې په بارګاهِ اِلٰهی کښې حاضريدو نه د هغوئي مخې ته هيڅ رُکاوټ نه وي. (لواقح الانوار القدسيه ص٤٩٢)

يو بيان ډېر کسان لـمونځ ګزاره جوړ کړل

خوږو او مُحترمو اسلامي ورو ښو! په خپلو زړونو کښې د لـمونځونو اَهَمِّيَّت ډيرولو د پاره، هر لـمونځ اهتمام سره په خپل وخت کښې دننه د جَمعې سره د کولو او نور خلق د لـمونځونو د پاره د تيارولو سوچ حاصلولو د پاره د دعوتِ اسلامي دِيني ماحول کښې شامل اوسئ. راځئ چې د لـمونځ ګُزاره جوړيدلو او جوړولو مُتَعَلِّق يو "مَدَني سپرلے" واورو: د وزير آباد (پنجاب) يو اسلامي ورور هغه وخت د اسکول طالِبِ عِلم وو. يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي ورته د مَکْتَبَةُالْمَدِينه نه جاري شوے د بيان کيسټ "بے نمازی کی سزائیں" [د بيلمانځه سزا ګانې] پيش کړو. د هغوئي د

وينا مطابق کور کښې به د والِد صاحب نه علاوه هيڅ چا هُم لـمونځ نه کولو. بهر حال هغه کيستې ئې کور کښې اوچلولو، والد صاحب هُم هغه بيان واوريدلو او د کور کسانو ته ئې هم بيا بيا د هغه بيان اوريدلو ترغيب ورکړو، د هغه بيان په بَرَکت د هغه اِسلامي وررور د کور کسان لـمونځ گُزاره جوړ شو او د غوثِ پاك رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه مُريدان هُم جوړ شو او بيا يو وخت داسې راغې چې اَلْحَمْدُلِله د هغوئې په کور کښې د اسلامي خويندو هفته واره د سُنَّتو ډکه اِجتِماع کيدل هم شروع شوه. د هغه يو وررور د دعوتِ اسلامي نعت خوان هُم جوړ شو او جامِعَةُالْمدِينه کښې د درسِ نِظامي طالِبِ عِلم هم جوړ شو، او د هغه دوه د تره ځامنو د دعوتِ اسلامي په مَدرَسةُالْمَدِينه کښې د حِفظِ قرآن سعادت حاصلول هُم شروع کړل.

يقيناً مقدر کا وه سکندر ہے　　　جسے خیر سے مل گیا دینی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص ٦٤٧)

يقيناً هغه کس دے، ډير زيات بختور
چا ته چې ملاو شو په قسمت ديني ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اهل و عيال او مال ئې برباد شو

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله بِن عُمَر رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوايت دے چې د الله پاك خوږ رَسُول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د چا چې د مازديگر لـمونځ لاړو (يعني څوك چې بِالْقَصْد (يعني اِرادَتاً) د مازديگر لـمونځ ضائع کړي[1]) لکه د هغه اَهل و عِيال او مال ”وَتْر“ شو (يعني په زور ترينه واخستے شو). (بُخاری ج۱ ص۲۰۲ حديث ۵۵۲)

1 (شرحِ مُسلِم للنووی ج۵ ص۱۲۶)

د وَتْر مطلب

حضرت عَلّامه اَبُو سُلَيمان خَطّابِي شافِعِي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د وَتْر معنٰی ده "نقصان کيدل يا ترينه په زور اخستل" پس د چا نه چې بال بچي او مال په زور واخستے شو يا د هغه نُقصان اوشو لکه هغه چې يواځې پاتې شو. لِـهذا د لـمانځه قضا کيدلو نه انسان ته داسې ويريدل پکار دي څنګه چې هغه د خپل کور د کسانو او مال و دولت تللو (يعني بربادیدلو) نه ويريږي. (اِکمال المعلم بفوائد مسلم ج ۲ ص ۵۹۰)

مړي ته قَبْر کښې داسې ښکاري لکه لـمر چې پريوتو والا وي

حضرتِ سَيِّدُنا جابِر بِن عبدُالله رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې د رحمتِ عالَم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان دے: چې کله مړے قَبْر ته داخل شي نو هغه ته داسې ښکاري لکه د لـمر سترګه چې پريوتو والا وي نو هغه سترګې مړي او کښيني اَو وائي: "ما پريږدئ چې لـمونځ اوکړم." (ابنِ مَاجَه ج ٤ ص ٥٠٣ حديث ٤٢٧٢)

اے فرښتو سوالات وروسته اوکړئ

حَكِيمُ الْاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د حديثِ پاك د دې حِصَّے (هغه ته داسې ښکاري لکه د لـمر سترګه چې پريوتو والا وي) نه لاندې ليکي: دا احساس ورته د مُنکَر نَکِير په رابيدارولو کيږي، اګر که هر وخت خو شوے وي. ولې چې د مازديګر د لـمانځه زيات تاکِيد دے او د لـمر د سترګې د پريوتولو وخت د دې د تللو دليل دے، څکه ورته دا وخت ښودلے کيږي. د حديث د دې حِصَّے (ما پريږدئ چې لـمونځ اوکړم) نه لاندې ليکي: يعني اے "فرښتو! سوالات وروسته اوکړئ د مازديګر وخت په ختميدو دے ما پريږدئ چې لـمونځ اوکړم". دا به هُم هغه کس وائي څوك چې دُنيا کښې د مازديګر د لـمانځه پابند وو، **الله** دِ ئې رانصيب کړي. څکه **ربّ** [تعالٰی] فرمائي:

حٰفِظُوۡا عَلَى الصَّلَوٰتِ وَالصَّلٰوةِ الۡوُسۡطٰى ۚ

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: حفاظت اوکړئ د ټولو لمونځونو او د مينځني لمونځ. (پ۲، البقرة:۲۳۸)

يعني ”د ټولو لمونځونو خُصُوصاً د مازديګر ډير حفاظت اوکړئ.“ صوفِيائے کرام فرمائي: ”چې څنګه ژوند تيروئ هغسې به مړه کيږئ او څنګه چې مړه کيږئ هُم هغسې به پاځيږئ.“ ياد ساتئ! مُؤمِن ته به هغه وخت داسې ښکاري لکه د خوبه چې راپاځيدلے وي، ځنکدن وغيره به ترينه ټول هير وي. کيدے شي چې د دې عرض (ما پريږدئ چې لمونځ اوکړم) په وجه ترينه هډو سوال و جواب اونشي او که ترينه اوشي نو نهايت آسان ځکه چې د هغه دا خبره د ټولو سوالونو جواب شو. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج۱ ص۱٤۲)

کیا پوچھتے ہو مجھ سے، نکیرین! لحد میں
لو دیکھ لو! دل چیر کے، ارمانِ محمد
څه تپوس کوئ زما نه په لحد کښې نکيرَينو
زړه مې څيرې کړئ اُوګورئ، په ارمان د محمد يم

د رزق د تقسيميدلو وختونه

حضرتِ سَيِّدُنا امام شَعراني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه وائي: ما د سيِّدي علي خَواص رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه نه دا فرمان اوريدلے دے چې مادّي (يعني محسوسيدلو والا) رِزق کوم چې زمونږه د بدنونو خوراک وي، د سحر د راختلو (يعني د سحر د لمانځه د شروع کيدلو د وخت نه واخله) د لمر ستَرګه د راختلو يعني د يوے نيزے همره پورته کيدلو پورې (يعني د لمر راختلو نه 20 مِنَټه پس پورې) الله پاك تقسيموي او د رُوح خوراك يعني معنوي رِزق کوم چې په ستَرګو نه ښکاري (يعني په څه چې د زړه او دماغو سکون مبني وي) د مازديګر د لمانځه نه پس نه واخله د لمر پريوتلو پورې تقسيموي. (الواقع الانوار القدسية ص٦٧) د دې روايت مقصد دا دے چې دا وختونه په غفلت کښې مه

تيروئ بلکه په ذِکر و عبادت کښې ئې تيروئ.

د مُنافَـقَت يوه نـښه

خادِمِ نبي حضرتِ سَيِّدُنا اَنَـس بن مالِك رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُ بيان کوي چې ما د سرورِ کائنات صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَالِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې دا د مُنافِق لـمونځ دے چې ناست وي او د لـمر د سترګې اِنتِظار کوي تر دې چې کله د لـمر سترګه د شيطان د دوو ښکرو مينځ له راشي (يعني پريوتلو ته نزدے شي (مِراٰة ج٢ ص٣٠٠) نو اودريږي او څلور ټونګے اُووهي چې په هغې کښې د **الله** لږ شان ذِکر اوکړي. (مُسلِم ص ٢٦٤ حديث ١٤١٢)

د دې حديث نه درې مسئلے معلومې شوے

مُفَسِّرِ قرآن حضرت مُفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د دې حديثِ پاك په شرح کښې ليکي: د دې حديث نه درې مسئلے معلومې شوے، يوه دا چې په دُنياوي کاروبار کښې د اخته کيدو په وجه د مازديګر لـمونځ ناوخته (يعني مکروه وخت کښې) کول د منافقانو ښه ده. بله دا چې د لـمر پريوتلو نه شل مِنَټه مخکښې د کراهَت (يعني مکروه تحرِيمي) وخت دے، مُسۡتَحَب وخت کښې د مازديګر لـمونځ کول پکار دي. دريمه دا چې رُکُوع او سَجُده ډير په اِطمينان کول پکار دي. حُضُور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَالِهٖ وَسَلَّم په تادئ تادئ (يعني د زر زر لـمونځ کوونکي) سجدے ته د چرګ ټونګے وهلو سره تَشبِيه ورکړي ده، ځکه چې هغه د دانے خوړلو په وخت کښې په زمکه زر زر [ټونګے] وهي. (مِراٰةُ الۡمَنَاجِيح ج١ ص٣٨١)

د مازديګر د لـمانځه نه پس مه اُوده کيږئ

رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَالِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: "خوك چې د مازديګر نه پس اُوده شي او د هغه عقل

لا ړ شي نو هغه دِ صرف خپل ځان ملامته کړي.“

(مُسنَد اَبو يَعْلیٰ ج۱ ص۲۷۸ حديث ۴۸۹۷) (بهار شريعت ج ۳ ص۴۳۵)

نمازوں کے اندر خشوع اے خدا دے
پئے غوث اچھا، نمازی بنا دے

په لمونځونو کښې خُشوع را کړې يا الله
په خاطر د غوث، ما کړې لمونځ ګزاره ته مَولیٰ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د سُنَّت د درې حُرُوفو په نِسبت
د مازديګر د سُنَّتو مُتَعَلِّق درې فرامِينِ مُصطَفٰی ﷺ

﴿۱﴾ الله پاك دِ په هغه کس رحم اوکړي چا چې د مازديګر نه مخکښې څلور رکعاته اوکړل.

(اَبو داؤد ج ۲ ص ۳۵ حديث ۱۲۷۱)

﴿۲﴾ خوك چې د مازديګر نه مخکښې څلور رکعاته اوکړي، الله پاك به د هغه بدن په اور حرام کړي. (مُعْجَم كَبِير ج ۲۳ ص ۲۸۱ حديث ۶۱۱)

﴿۳﴾ خوك چې د مازديګر نه مخکښې څلور رکعاته اوکړي، هغه ته به اور نزدے هم نه ورځي.

(مُعْجَم اَوْسَط ج ۲ ص ۷۷ حديث ۲۵۸۰) (بهار شريعت ج۱ ص ۶۶۱)

د مازديګر د سُنَّتو په باره کښې مَدَني ګلونه

د مازديګر د فرضو نه مخکښې څلور رکعاته کول سُنَّتِ غيرِ مُؤَکَّده دي. په دې کښې (او د ماسختن د فرضو نه مخکښې د څلورو سُنَّتو) د وړومبي او دريم رکعت په شروع کښې دِ ثناء، اَعُوذ او بِسْمِ الله اُووائي. د دويم او څلورم رکعت نه پس ”قَعده“ فرض ده. دواړو قعدو کښې د اَلتَّحِيات نه پس دُرُودِ اِبراهيم او دُعا هم اولولئ. څلور سُنَّتِ غيرِ مُؤَکَّده شروع کولو نه پس د جَمعې

اودريدلو په صورت کښې په دوه رکعاتو سلام اوګرځوئ او **جُمعه** کښې شامل شئ خو د ماسپښنين او جُـمُعه سُنَّتِ قَبلِيه يعني فرضو نه مخکښې کيدونکي څلور سُنَّتو کښې څلور رکعاته پوره کړئ. د دې مسئلے تفصيلي معلومات "فَتَاوىٰ رَضَوِيَّه" جِلد 8 صفحه 129 تا 136 کښې کتلے شئ.

د ماښام د لمانځه فضائل

د مقبول حج او عُمرے ثواب

خادِمِ نبي حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې د سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے. "چا چې د ماښام لمونځ د **جَمعې** سره ادا کړو د هغه د پاره به **د مقبول حج او عُمرے ثواب** ليکلے کيږي او هغه داسې دے لکه هغه چې په **شَبِ قَدر** کښې قِيام اوکړو."

(جَمعُ الْجَوامِع ج ۷، ص ۱۹۵ حديث۲۲۳۱۱)

د ماښام د فرضو نه پس شپږ رکعاته

دوه فرامينِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ﴿۱﴾ څوک چې د ماښام نه پس شپږ رکعاته اوکړي او د هغې په مينځ کښې څه بده خبر اونکړي نو د دولسو کالو د عبادت (د ثواب) برابر به کړے شي.

(ترمِذِی، ج ۱ ص ۴۳۹ حديث ۴۳۵)

﴿۲﴾ څوک چې د ماښام نه پس شپږ رکعاته اوکړي د هغه ګناهونه به اوبخښلے شي اګر که د سمندر د زګ همره وي. (مُعْجَم اَوْسَط ج ۵ ص ۲۵۵ حديث ۷۲۴۵)

د اَوّابِين د لمانځه طريقه

د ماښام د درې رکعاته فرض ادا کولو نه پس شپږ رکعاته يو سلام سره ادا کړئ، په هرو دوو [رکعاتو] قَعده کوئ او په هغې کښې اَلتَّحِيات، دُرُودِ اِبراهِيم او دُعا وائې. د وړومبي، دريم او پينځم رکعت په شروع کښې ثناء، تَعَوُّذ او تَسمِيَه (يعني ثناء، اَعُوذ او بِسۡمِ الله) هُم اولَولئ. د شپږم

رکعت د قعدے نه پس سلام اوګرځوئ. وړومبي دوه رکعاته سُنَّتِ مُؤَكَّدَه شو او باقي څلور نفل. دا دے د اَوَّابِين (يعني د توبه کوونکو) لـمونځ (الوظيفةُ الکريمه ص٢٦ مُلَخَّصاً) که غواړئ نو دوه دوه رکعاته هُم کولے شئ. **بهارِشريعت جِلد اوَّل** صفحه 666 کښې دي: د ماښام نه پس **شپږ رکعاته مُستَحَب** دي، دے ته صَلوٰةُالاَوَّابِين وائي، اګر که يو سلام سره ټول ادا کړي يا دوه (سلام) سره يا درې سره او درې سلام سره يعني **هرو دوو رکعاتو باندې سلام ګرځول غوره دي.**

(دُرِّمُختار و رَدُّالْمُحتَار ج٢، ص٥٤٧)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د ماښام او ماسخُتن د مينځه د عبادت ثواب

حضرتِ سَيِّدُنا عُمر بِن ابو خليفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان کوي چې مونږه د حضرتِ سَيِّدُنا عطاء خُراساني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سره د ماښام لـمونځ ادا کړو، د لـمانځه نه پس چې مونږه بيرته روانيدو والا شو نو هغوئي زما لاس اونيولو او اُوئې فرمائيل: "د ماښام او ماسخُتن د مينځه دے وخت نه خلق غافِله دي، دا د اَوّابينو (يعني د توبه کوونکو) د لـمانځه وخت دے. چا چې په دې دوران کښې د لـمانځه په حالت کښې د قرآنِ کريم تِلاوت اوکړو لکه هغه چې د جَنَّت په باغِيچه کښې دے." (الله والوں کی باتیں ج٥ ص٢٥٩)

د ماسخُتن د لـمانځه فضائل

په مُنافِقانو باندې د سحر او ماسخُتن لـمونځ بوج وي

حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللهُ عَنْه نه رِوايت دے چې د تاجدارِ رِسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمان دے: "په ټولو لـمونځونو کښې زيات ګران (يعني بوج) په منافِقانو باندې د **ماسخُتن** او **سحر** لـمونځ دے، او کوم چې په دې کښې فضيلت دے که خبر وے نو ضرور به حاضريدلې اګر که په سُرِينو (يعني بدن کښې چې په ناسته کښې د بدن کومه حِصَّه په زمکه لګي

د هغې) په ښويدلو ښويدلو يعني چې څنګه هم کيدے شوے راتللے به.“

(اِبنِ مَاجَه ج۱ ص ٤٣٧ حديث ٧٩٧)

د حديث مبارك شرح

حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دې حديثِ پاك په شرح کښې ليکي: ولې چې مُنافِق صرف ښودنے د پاره لـمونځ کوي، په نورو وختونو کښې خو ئې په څه طريقه اوکړي خو د **ماسخُتن** په وخت کښې د خوب غَلَبه وي او د **سحر** په وخت کښې ئې د خوب خوند مست کړي. اخلاص او عِشق تول مُشکِلات حل کوي، هغه په هغوئې کښې نشته، لِـهذا دا دواړه لـمونځونه هغوئې ته ډير درانه (يعني ډير غټ بوج) ښکاري، د دې نه دا معلومه شوه چې کوم مسلمان په دې دوو لـمونځونو کښې سستي کوي هغه د منافقانو په شان کار کوي.

(مِراٰۃُالْمَنَاجِيح ج۱ ص ٣٩٦)

مُنافِقان د ماسخُتن او سحر لـمونځونو ته د راتللو طاقت نه لري

د تابِعي بُزرګ حضرتِ سَيِّدُنا سعيد بِن مُسَيَّب رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه رِوايت دے چې د سردارِ دوجهان صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم د عِبرت نه ډك فرمان دے: ”زمونږه او د مُنافِقانو په مينځ کښې علامت (يعني نښه) د **ماسخُتن** او **سحر** په لـمانځه کښې حاضريدل دي ځکه چې مُنافِقان دے لـمونځونو ته د راتللو طاقت نه لري.“ (مؤطا امام مالِك ج۱ ص ١٣٣ حديث ٢٩٨)

په حديث کښې کوم مُنافِق مُراد دي

حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ليکي: په دې حديث کښې د بيان شوي مُنافِق نه مُراد (د دَورِ رِسالت بد ترين کفّار نه دي چې هغوئې به ځان ته په دروغو مسلمانان وئيل خو د زړه نه کافِر وو بلکه دلته مُراد) ”مُنافِقِ عملي“ دي (کوم چې حقيقت کښې مسلمانان دي) د حديث د دې حِصَّے ”مُنافِقان دے لـمونځونو ته د راتللو طاقت نه لري“ نه مُراد دے: مونږه دا لـمونځونه

په راستئ او خوشحالئ ادا كوو، مونږ ته په دې دوارو لـمونځونو كښې **جَمعي** سره ادا كولو د پاره جُمات ته راتلو كښې هيڅ مَشَقَّت نه وي او په مُنافِقانو باندې دا لـمونځونه درانه دي ځكه هغوئي دا په خوشحالئ او راستئ سره د ادا كولو طاقت نه لري. (څه مخكښې فرمائي:) واضحه دِ وي چې **مُنافِق** (عَمَلي) د عبادت قائمولو د پاره بلكه د عادت په وجه **لـمونځ** كوي او ولې چې د هغه نَفس **لـمونځ** كول ناخوښه ګڼړي ځكه هغه د ټولو سره يو ځائے نه بلكه په خپل كور كښې يواځې لـمونځ كوي. (مخكښې نور ليكي:) د بعضې عارِفِينو (يعني د **الله** تعالیٰ پيژندګلو لرلو والؤ) قول دے چې: د سحر لـمونځ **جَمعي** سره پابندئ سره كولو سره د دُنيا مشكل كارونه آسان شي، د مازديګر او ماسخُتن په لـمانځه كښې د **جَمعي** پابندئ سره زُهد پيدا كيږي (يعني د دُنيا نه بے رَغبتي نصيب كيږي)، د ''خواهشاتو'' د پيرَوئ نه نفس منع كيږي. (فيض القدير ج١ ص٨٤، ٨٥)

د ماسخُتن د لـمانځه نه مخكښې اُوده كيدل

حُضُورِ اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: څوك چې د ماسخُتن د لـمانځه نه مخكښې اُوده شي **الله** پاك دِ د هغه ستركه نه اُوده كوي. (جَمعُ الْجَوامِع ج٧، ص٢٨٩ حديث ٢٣١٩٢)

اَميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ خپلو حُكّامو ته يو فرمان اوليكلو چې په هغې كښې دا هُم دي چې څوك د ماسخُتن نه مخكښې اُوده شي **الله** دِ اوكړي چې د هغه ستركې اُودے نه شي، څوك چې اُوده شي د هغه ستركې دِ اُودے نه شي، څوك چې اُوده شي د هغه ستركې دِ اُودے نه شي. (مؤطا امام مالِك ج١، ص٣٥ حديث ٦)

د **سَيِّدُنا** عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د فرمان مُتَعَلِّق **حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليكي: د جنابِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دا دُعائے ضَرر د اِظهارِ غَضَب (يعني د خفګان ښكاره كولو) د پاره ده. ياد ساتئ چې د **ماسخُتن** نه مخكښې اوده كيدل او د **ماسخُتن** د لـمانځه نه پس بے ضرورته ويښ اوسيدل (دا دواړه كارونه) خِلافِ سُنَّت او **نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ناخوښه دي. خو د لـمانځه

نه مخکښې اُوده کیدل او لـمونځ نه کول او دغسې د **ماسخُتن** نه پس ویښ اوسیدل او د **سحر** لـمونځ قضا کول حرام دي ځکه چې **د حرام ذریعه** هُم حرامه وي. (مِراٰۃ ج۱ص۳۷۷)

د ماسخُتن نه مخکښې اُوده کیدل مکرُوه دي

"**بهارِ شریعت**" کښې دي: د ورځې په وړومبئ حِصّه کښې اُوده کیدل یا د ماښام او ماسخُتن تر مینځه اُوده کیدل مکرُوه دي. (بهارشریعت ج۳ص۴۳٦)

د ماسخُتن د لـمانځه نه پس خبرې اترې

﴾۱﴿ عِلمي خبرې، د چا نه د مسئلے تپوس کول یا د هغې جواب ورکول یا د هغې تَحقِیق و تَفتِیش کول، داسې خبرې کول د اُوده کیدو نه غوره دي ﴾۲﴿ د دروغو قصّے کول، مسخرے کول او د توقو ټقالو خبرې کول دا مکرُوه دي ﴾۳﴿ د مُوَانَسَت خبرې اترے کول یعني د ښځې او خاوند یو بل سره [خبرې کول] یا میلمه سره د هغه د زړه د پاره خبرې کول دا جائز دي. داسې قِسم خبرې چې اوکړي نو په آخره کښې دِ ذِکرِ اِلٰهی کښې مشغول شي او په تَسبِیْح او اِستِغفار باندې د کلام خاتِمه کیدل پکار دي. (بهارشریعت ج۳ص۴۳٦)

د لـمونځونو د نومونو وجه

فَجْر: د فجر معنیٰ "سحر" دے[1] ولې چې د فجر لـمونځ د سحر په وخت کښې ادا کیږي، ځکه دے لـمانځه ته د فجر لمُونځ وائي.

ظُهر: د ظُهر یوه معنیٰ ده "ظَهِیرَةٌ" (یعني: غرمه)، ولې چې دا لـمونځ د غرمے په وخت کښې ادا کیږي، ځکه دے ته د ظُهر لـمونځ وائي.

عَصْر: د عصر معنیٰ ده: "د ورځې آخري حِصّه" ولې چې دا لـمونځ په هم دے وخت کښې ادا کیږي ځکه دے لـمانځه ته د عصر لـمونځ وائي.

---

1 [مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: (پ۱۵بنی اِسرائیل:۷۸)

مَغْرِب: د مغرِب معنىٰ د لـمر د پریوتلو وخت دے، ولې چې د ماښام لـمونځ د لـمر پریوتو نه پس ادا کیږي ځکه دے لـمانځه ته د مغرِب لـمونځ وائي.

عِشاء: د عِشاء لُغوي معنىٰ د شپې ابتدائي تِیاره ده[1] ولې چې دا لـمونځ د تِیارے کیدلو نه پس ادا کیږي ځکه دے لـمانځه ته د عِشاء لـمونځ وائي. (شرح مُشکِلُ الآثار لِلطحاوی ج۳، ص۳۴،۳۱ مُلَخَّصاً)

تو پانچوں نمازوں کا پابند کردے
پئے مصطفٰے ہم کو جنت میں گھر دے

ما پابـند کړې د پینځه وخته لـمونځونو یا الله
په جَنَّت کښې راکړې کور په خاطر د مُصطَفىٰ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

1 (نُزهَةُ القاری ج۲ ص۲۴۵)

دراروانيءِ هفتے رساله



فيضانِ مدينه، محلّه سوداڪران، زره سبزي منڊهي ڪراچي

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com